Schweizerische Eidgenossenschaft
Confédération suisse
Confederazione Svizzera
Confederaziun svizra

Federal Department of Justice and Police FDJP
**State Secretariat for Migration SEM**

CRPC

# غیر منظم مهاجرت



غیر منظم مهاجرت

خپرونکی:

د بحران غبرګون او پالیسی مرکز (CRPC)

office@crpc.rs

Photo by Samuel Silitonga from Pexels

ترجمان: ماريا ماريانوويچ

د دې خپرونې تولید د سویټزرلینډ حکومت له خوا ملاتړ شوي و. اړینه نه ده چې دا خپرونه د سویټزرلینډ حکومت رسمي دريځونه وټاکي.

دا رساله د مهاجرت زيان منني له لارې د غير قانوني حجرت په پروژه کې د مهاجرت لپاره د سويس رياست سکرتريت (SEM) له خوا ملاتړ شوې د CRPC مؤسسې پايلو پراساس رامينځته شوې. په دې مقاله کې د غير قانوني مهاجرينو حقونه (2006) د پريکړي نمبر 1509 ليک له مخې ټاکل شوي دي: د غیر قانوني مهاجرينو بشري حقونه دلته د لاسرسي وړ دي:

http://assembly.coe.int/nw/xml/XRef/Xref-XML2HTML-en.asp?fileid=17456

بلګراډ 2019

## غیر منظم مهاجرت

تاسو ټول چې تر دې دمه یې سفر کړی له مخکې نه په دې خبره پوهیږئ چې دا سفر څومره خطرناک او سخت دي. ځیني وختونه مونږ د هغه چا لپاره چې مونږ ورسره مینه کوو ډیره سخته اړتیا لرو تر دي پوري چې موږ خپل ژوند په خطر کې اچولو ته هم چمتو شو. ولي د ښې پریکړې کولو لپاره، دا خبره مهمه ده چې مونږ د خپل دریځ او اختیارونو په اړه ټول اړین معلومات ولرو.

*

کله چې تاسو یو هېواد ته په دي ډول سفر وکړئ چې د اعتبار وړ د سفر اسناد او دا اجازه نامه نه وي چې تاسو دې هېواد ته داخل شئ، هلته پاتې شئ یا کار اوکړئ، نو تاسو یو غیر قانوني مهاجر یاست.

له دي خبري امکان شته چې په ځینو حالاتو کې خلک داسې احساس وکړي چې دوی پرته له اجازې بل هېواد ته د ننوتلو بله لاره نه لري. دا کار قانوني نه دي، ولي د دي معنی دا هم نه دي چې تاسو مجرم یاست.

یوه ډله یا یو فرد باید د هر فرد د ستونزو له سمې ازموینې پرته د هېواد د پولې څخه بیرته شړل او واپس کول نه دي پکار. د دي اجازه نشته.

هیڅ څوک دا حق نه لري چې تاسو په زور سره داسې سند لاسلیک کړي چې هغې کې لیکلي وي چې تاسو غواړئ خپل هېواد ته بیرته د خپلې خوښې سره راستون شئ.

د سرحدي پولیسو یا بل چا له خوا ستاسو سره تاو تریخوالی کول غیرقانوني دي. دا د هغه هېواد ذمه واري ده چې تاسو د هر ډول تاوتریخوالي څخه وژغورئ او ستاسو د ژوند حفاظت وکړي.

که چیرې دولتي چارواکي وکړي چې، ستاسو سره سخت تاوتریخوالی په شکل د وهلو ټکلو وکړي، د بریښنایی ټکانونه درکړي یا سپي ته اجازه ورکوي چې تاسو وداړي. دا هم ممکنه دا چې د ناوړه چلند او ستاسو د حقونو سرغړونې سره هم مخ شئ، لکه سپکاوي یا په تاسو

باندي شراب اچول. د تکراري تاوتریخوالي تجربي نه تیریدو نتیجه دا هم کیداي شي چې تاسو د مازغو په نا روغتیا کې اخته شئ.

پرته له قانوني حالت څخه په یو هېواد کې د اوږدې مودې لپاره ژوند کول پدې معنی دي چې دا به د مجرمینو لپاره اسانه وي چې له تاسو څخه استثماروي، ناوړه ګټه پورته کړي، بې عزتي وکړي او تر دي پوري چې تاسو د مختلف دولونو ګواښونو سره شانتاژ وکړي.

دا استثمار دي که چیرې ستاسو نه په زور کار واغستي شي او یا تاسو یو غیر رجسټر کاریګر یاست او تاسو ته منظم یا کافي معاش نه درکولی کیږي. دا د قانون خلاف ده. تاسو د راپور ورکولو حق لرئ.


دا خبره امکان لري چې تاسو ته معلومه نه وي او تاسو چا بل چا باندې وپلورلی ئي ځوک چې په ممکنه توګه تاسو نه ستاسو د مرضئ خلاف کار اغستي شي او تاسو باندي غلط کارونه کولي شي. دا قاچاق کیدا ی شي او تاسو چاړواکو ته د راپور ورکولو حق لرئ.

که چیري ستاسو سره د سفر په جریان کې د نورو په پرتله د پوټکي رنګ، مذهب، قومیت، تکم، جنسي تعصب یا نور څه له امله ناوړه چلند وکړي نو تاسو د شکایت کولو حق لرئ ځکه چې دا تبعیض دي او دا ستاسو له حقونو څخه سرغړونه ده.

که چیري تاسو باندي پخپله تیر شي یا وګورئ چې د بل چا سره دا عملونه کیږي لکه وژنه او انتقام، د ناموس په نوم وژنه، د ماشومانو ودونه، جبري ودونه، او داسې نور ځیزونه، نو پوهه شئ چې دا د قانون خلاف دي. داسي کارونه د یو چا د فرهنګ برخه هم نه شی کیداي. که دا په لاره کې تاسو سره پیښ شي، تاسو د راپور ورکولو حق لرئ.

که تاسو ماشوم یاست او یو بالغ غواړي چې تاسو سره جنسي اړیکه ونیسي، دا د قانون خلاف دي، تاسو باید په دې اړه راپور ورکړئ.

ممکنه ده چې خلک ستاسو د عمر په پام کې نیولو پرته ستاسو په جنسي برید هڅه وکړي. تاسو باید په دې اړه راپور ورکړئ.



هرکله چې تاسو په دي نيت سفر شروع کړئ او دغه "لوبې" ته روان شئ (د پولې پورې غاړې ته تلل)، نو تاسو د خپل ژوند او حفاظت لپاره يوه لويه خطره اخلئ. تاسو غلا کيداي شئ يا تښتولی کيداي شئ. وحشتناکې پيښې واقع کيدای شي.

په ځينو سيمو کې، له تيرو جنګونو د وخت ماينونه اوس هم ځمکه کې خښ دي. د دي له پاسه تيريدل خورا خطرناک دي.

په ځنګلونو کې خطرناک ځناور شته کوم چې تاسو باندي بريد کولي شي، او زهر لرونکي ځناور او بوټي هم موندل کيداي شي.

که تاسو دي "لوبې" ته روان شئ او تاسو يوه وړوکي ناروغي لرئ لکه يخني، کله چې تاسو د ډيرو ورځو لپاره د کور نه بهر په يخنئ کې ياست، ستړي، وږي او تږي ياست، نو تاسو خورا ناروغه کيداي شئ.

د سفر پرمهال ستاسو د روغتيا ساتل يوه ننګونه ده. تاسو د پوټکي په مختلف رنځونو کې اخته کيداي شئ لکه: خارښ، سپګې کيدل او نور داسي رنځونه. ستاسو دا رنځونه نورو خلکو ته د جامو ، کمپلو او نږدې جسماني تماس شريکولو په له لار منتقل کيداي شي.

که تاسو په يو خيرن ځاي کې دباندې يا ځنګل کې يا په يو تيره څيز سره ټپي شوئ او د مرستې لپاره شاوخوا ډاکټر نه لرئ، نو دغه زخم ناسور کيداي شي او ستاسو ژوند په خطر کې اچولی شي.

پکار ده چې تاسو ته د عاجل طبي درملني ترلاسه کولو اجازه درکړي شي، پرته له دې خبري چې هغه ځاي کې ستاسو قانوني حيثيت هر څه وي.

ستاسو قاچاقبر يا ډله دا هم کولی شي که چيرې تاسو ستړی يا ناروغ ياست نو تاسو بيرته پريږدي. که تاسو د مرستې لپاره اړيکا هم ونيسئ ولي دا به تاسو ته رسيدو کې وخت واخلي.

په لاريو کې سفر کول خورا خطرناک کيداي شي. د کيمياوي توکو يا تيلو بار وړلو والا لاريو ته ننوتل يا هغه لاريو کي تلل چې يخچال پکي وي، د مرګ لامل کيدای شي. که چيرې د لارۍ چلوونکی لاري

اودروي او چلوونکی لاړ شي، او دننه موجود خلکو سره د مرستې غوښتلو څه لار نه وي نو هغوي د لوږې او تندې له امله مړه کیدای شي.

که چیرې قاچاقبر ډیر خلک په ګاډي کې ځاي په ځاي کړي، نو ډیر احتمال شتون لري چې پیښنه به پیښ شي چې مسافرانو پکي مړه کیداي شي .

په اورګاډي د پاسه کښیناستل هم خطرناک دي. په اروپا کې دا ګاډي په بریښنا چلیږي او دي له پاسه ناسته تاسو مړه کولي یا سوزولي شي.

په اوبو پوري وتل خطرناک وي. خوړونه او نهرونه ژور، ګړندی یا ډیر یخ کیداي شي. کښتی په مکرر ډول ډوبیږي ځکه چې دننه پکي ډیر خلک شتون کړي شوي وي یا کښتۍ مضبوطه جوړه شوي نه وي.

کله چې تاسو نوي هېواد ته ننوځئ نو تاسو حق لرئ چي د پناه غوښتنه وکړئ او دا بیا د قانون خلاف کار دي چې تاسو څوک هغه ځای ته واپس راستون کړي چیرې چې تاسو په خطر کې یاست.

تاسو حق لرئ چې د چارواکو لخوا ترسره کیدو والا عملیاتو کې او کله چې له تاسو څخه د هغه سندونو لاسلیک کولو غوښتنه کیږي کومي باندي چې تاسو نه پوهیږئ نو د ترجمان او قانوني مشاور یا وکیل غوښتنه وکړئ.

که تاسو یو ماشوم یاست چې یوازې سفر کوئ نو تاسو د قانوني سرپرست حق لرئ څوک چې به ستاسو له پاره غوره او ګټور کار وکړي.

پکار ده چې د غیر قانوني مهاجرو توقیف کول د یو آخري حل په توګه وکارول شي او چې دا د ډیرې مودې لپاره هم نه وي. کله چې تاسو په توقیف کې یاست نو تاسو حق لرئ  چې په هغه ژبه کې تاسو ته معلومات درکړي شي چې تاسو پرې پوهیږئ او تاسو باید د دې وړ اوسئ چې د خپلې خوښې هرچا سره اړیکه ونیسئ.



که چرې تاسو توقیف شي نو پکار ده چې تاسو د نورو مجرمینو نه جدا وساتلي شئ.

*

بل یو هېواد ته په غیر قانوني توګه تللو نه مخکې ښه سوچ وکړئ. یوازې د خپل قاچاقبر یا کورنۍ لخوا چمتو شوي معلوماتو باندې تکیه کولو پرځای د معلوماتو رسمي سرچینې وکاروئ. کیداي شي چې ځینې خلک تاسو ته په قصدي ډول غلط معلومات درکړي، او کیداي شي چې ځینې معلومات په صحیح ډول اغستوله کې تاسو غلط شئ. کیداي شي چې هغه هېواد چې تاسو ورته په غیر قانوني لار تلل غواړئ داسي ښکاري چې ستاسو منزل ستاسو نه یوازې یو ګام لرې دي ولې خطرات لاهم شتون لري. ځینې وختونه په هغه هېوادونو کې بیا هم خطري وي کومي ته چې تاسو لاړ شئ. که تاسو هلته په قانوني ډول نه وسیدلي، نو ممکنه ده چې تاسو په فاسد ډول ژوند وکړئ. په آخر کې، دا ستاسو حق دي چې د ځان لپاره انتخاب وکئ، ولې که تاسو قانوني لار اختیار کړئ نو تاسو په ډیر حقونه ترلاسه کړئ او د ژوند ساتنه به مو په غوره ډول وشي. تر دي پورې چې که تاسو سربیا یا نور هېوادونه ته د مهاجر په توګه تلل غواړئ نو ممکن ده چې دغه ځائ په هغه ډول نه وي کوم ته چې تاسو تلل غواړئ. نو امکان شتون لري چې که تاسو دلته خپل وسیدل قانوني کړئ او رسمي عملیاتو نه تیر وځئ نو خپل حقونه به ترلاسه کړئ.

